# LANGUAGE AND CULTURE

# ژبه او کلتور

Dr. Bushra Ikram*

ABSTRACT:

Culture is a combined word for the customs and traditions, beliefs and superstitions, dresses and ornaments, foods and delicacies and the whole life style of a nation. Language, beliefs, symbols, values and norms are the key elements of a culture. In all these elements language is the most important element of a culture. A language is not only a repository of a culture but also a strong tool for the transmission of a culture from one generation to another. The lexes of a language reflects the whole life structure of a people. Many customs and traditions and material objects are preserved in different genres of folklore of a language. Similarly the geographical location, flora and fauna, science and technology and behaviors of people effects the language also. This paper is an attempt to show a very strong relationship of Pashto language and culture.

**Key words:** language, culture, folklore, linguacultural.

د هر قوم خپل چاپیر یا ، نړۍ او دې ټول کائنات ته د کتو یو خپل نظر، خپله د ـــ ۔ او په خپله نظریه او د دې ټولې نړۍ په حقله خپل خپل تجربات وي ۔ بیا د دې نظر، د دې نظریو او د دې تجرباتو په رڼا کښې هر قوم ځان له د ژوند ژواک دپاره د قوانینو خپل یو سیټ جوړوي، کوم چې د یو نسل نه بل نسل ته منتقل کېږي ۔ او اصل کښې هم په دې طریقه د یو قوم کلتور سازېږي ۔ وخت سره سره په دمه د قوانینو دا سیټ د دوي د ژوند یوه لازمي برخه جوړېږي ۔ او په نړۍ کښې د دوي پېژندګلو هم په دې قوانینو او د دې په عناصرو کېږي ۔ او نه صرف پېژندګلو بلکې نورو قومونو ته د دوي فرق هم په ثقافت کولے شي ۔

---

* Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

ثقافت د عربۍ لفظ دے چې د ثقفه نه وتے دے۔ او د دې معني ده عقل مندي، دانائي، پوهه، زيرکي، الثقيف هغه کس ته وئيلے شي چې هغه هوښيار او دانا وي۔ ثقف په عربۍ کښې چهت ته هم وئيلے شي۔

"د ثقافت دپاره په انګرېزۍ ژبه کښې د کلچر لفظ استعمالېږي۔ کلچر د انګرېزۍ ژبې لفظ دے چې د لاطينۍ ژبې (Cultura) نه جوړ دے۔ لفظ کلتورا (Cultura) د کولير (Colere) نه وتے دے۔ او د دې معني ده کاشت کول، کرل، نالول، زمکه جوړول، هوارول، بوټۍ نه بوټۍ تخم اچول او دپيداوار تر مخه د هغې بوټۍ نه بوټۍ پالنه کول۔"[1]

"په انګرېزۍ کښې مختلفو دانشورانو او سائنسدانانو د دې ډېرې معنې کړې دي لکه په نوولس سوه دوه پنځوسم کښې الفرډ کروبر (Alfred Kroeber) او کلائيډ کلوخون (Clyde Kluekhon) په خپل کتاب "Culture A Critical Review Of Concepts And Definitions" کښې د دې لفظ يو سل څلورشپيتۀ تعريفونه کړي دي۔ لفظ کلچر موجوده معنې په ارتقائي توګه اختيار کړې ده۔ که چې د کلچر تصور په اتلسمه پېړۍ کښې راغے نو هغه وخت د دې مطلب په ايګريکلچر او هارټي کلچر (Horticulture) (د ګلونو، ميوؤ او سبزو کرلو فن او مطالعه) کښې د کاشت کولو، نالولو او بوټۀ کولو اخستے کېدو۔ بهتري او ترقي په خصوصي توګه د تعليم په ذريعه۔ د نولسمې پېړۍ په نيمای کښې څۀ سائنسدانانو د کلچر لفظ په آفاقي ډول د پوره انسانيت دپاره استعمال کړو۔ هم په نولسمه پېړۍ کښې په جرمني کښې کلچر (Culture) يعني کلتور لفظ رواج اوموندو او نن سبا په پښتو کښې هم د کلچر دپاره کلتور لفظ استعمالېږي۔"[2]

اصطلاحي اعتبار سره د ثقافت معنې ډېره فراخه ده چې په کښې د ماضي او حال د ټولنيز ژوند د ورثې يو لامحدوده تصور موندے شي۔

لاندې د څۀ ډکشنرو په حواله د کلچر تعريف بيانووم۔

آکسفورډ انګلش ډکشنري د کلچر تعريف څۀ داسې کوي۔

"The ideas, customs and social behaviors of a particular people or society is called culture."[3]

ترجمه: " د یو مخصوص قوم یا ټولنې خیالاتو، رسمونو او ټولنیزو رویو ته کلچر وئیلے شي ـ"

میریم ویبسټر ډکشنري د کلچر تعریف څۀ داسې کوي ـ

"The customary beliefs, social forms and material traits of a racial religious or social group also the characteristics features of everybody existence shared by people in a place or time."[4]

ترجمه: "د یونسلي، مذهبي یا معاشرتي ټولګي رسمي عقیدې، معاشرتي جوړښت او مادي امتیازات یا په یو وخت یا یو ځائے کښې د خلقو د امروزه ژوند خصوصیاتو ته هم کلچر وئیلے شي ـ"

کیمبرج ډکشنري د کلچر تعریف څۀ داسې کوي ـ

"The way of life of a particular people especially as shown in their ordinary behaviors and habits, their attitudes towards each other and their moral and religious beliefs."[5]

ترجمه: "د یو مخصوص قوم د ژوند ژواک طریقه په خصوصي توګه کومه چې د دوي د عامو رویو او عادتونو نه ظاهرېږي ـ کومې رویې او عادتونه چې دوي د یو بل سره کوي او د دوي اخلاقي او مذهبي عقائد هم په کښې شامل دي ـ"

کولنز انګلش ډکشنرۍ کښې د کلچر تعریف څۀ داسې لیکلے شوے دے ـ

"The ideas, customs, skills, arts etc. of a people or group that are transferred communicated or passed along as in or succeeding generations."[6]

ترجمه: "د یو قوم یا ټولګي تصورات، روایات، هنرونه او فنونه کوم چې د یو نسل نه بل نسل ت منتقلولے شي ـ"

دغه شان امریکن هیریټیج سائنس ډکشنري کښې د کلچر تعریف څۀ دا رنګې لیکلے شوے دے ـ

"Culture is learned and shared within social groups and is conveyed by non-genetic ways."[7]

ترجمه: "ثقافت د یوې ټولنې د غړو په خپلو کښې شریک وي ـ او په غیر جنیاتي توګه د یو نسل نه بل نسل ته منتقلولے شي ـ"

د لغاتو د تعریف نه پس دلت د کلچر په حقله د څو پوهانو نظر هم وړاندې کوم.

مالینوسکي (Malinowski) وائي!

"It is a response to three sets of needs, the basic needs of the individual, the instrumental needs of the society and the symbolic and intellectual needs of both the individual and the society."[8]

ترجمه: "دا درې قسمه ضرورتونه د رد عمل نوم دے. د یو غړي بنیادي ضرورتونه د یوې ټولنې دارتي ضرورونه او د ټولنې او د غړي شریک ضرورتونه.

دغه شان سکارینو وائي!

"Culture is not only information about diverse people and their practices but also and most important as the contextual framework that people use to exchange meaning in communication with others and through which they understand their social world."[9]

"کلچر نۀ صرف د مختلف قسمه خلقو او د هغوي د عادتونو په حقله معلومات ورکوي بلکې ډېر مهم د هغه نظام ډهانچه ښائي په کوم کښې چې خلق یو بل سره د رابطې په مصنوعي نظام پوهېږي او د کوم په ذریعه چې هغوي په خپل معاشرتي چاپیریال باندې پوهه لري."

اي. بي ټائلر د ثقافتیاتو په مضمون کښې ډېر شهرت لري او هغۀ په وړومبني ځل په کال ۱۸۷۱ء کښې په خپل کتاب (A Primitive Culture) کښې د کلچر تعریف څۀ داسې کوي.

"Culture is that complex whole which includes knowledge, beliefs, arts, morals, law, customs and habits and any capabilities acquired by man as a member of society."[10]

ترجمه: ثقافت د یو داسې کُل نوم دے چې په هغې کښې علم، عقیده، فن، اخلاق، قانون، رسمونه، رواجونه او هغه ټول عادتون شامل دي چې یو ښۀ بنده ئې د معاشرې د یو غړي په حیث زده کړه کوي."

د ټولن پوهنې د ماهرانو مطابق هغه اقدار، عقیدې، رویې او مادي څېزونه چې د یوې ټولنې ژوند ژواک جوړوي، کلچربللے شي. په کلچر کښې هغه څۀ شامل دي څۀ چې زمونږ سوچ دے. څۀ چې مونږ کوؤ او څۀ

چې زمونږ دي ـ دې ټولن پوهنې په رڼا کښې مونږ د کلچر تعریف داسې کولے شو ـ

"Culture is the total of the inherited and innate ideas attitude, beliefs, values and knowledge comprising or forming the shared formulations of social action."[11]

ترجمه: " کلچر د ورثتي ،جبلي، خیالتو، عادتونو، عقیدو، اقدارو اوعلم نوم دے چې د یو معاشرتي عمل ضابطه جوړوي۔"

د بشر پوهنې په نقطه نظر کلچر د زده شوؤ رویو هغه نظام ته وئیلے شي کوم چې د یوې ټولنې د غړو خاصیت دے ـ په حیاتیاتي توګه دا څۀ وراثتي شے نۀ دے ـ کلچر د زده شوؤ رویو د هغه مجموعې نوم دے چې د یوې ټولنې غړي ئې په شریکه کوي او د یو نسل نه بل نسل ته منتقل کېږي ـ

د بشرپوهنې په رڼا کښې مونږ د کلچر تعریف داسې کولے شو ـ

"Culture encompasses the total range of activities and ideas of a specific group of people with common and shared traditions which are conveyed, distributed and highlighted by members of the group."[12]

ترجمه: "کلچر د هغه ټولو خیالاتو او کارونو احاطه کوي کوم چې د یو قوم په داسې خصوصي ټولګي کښې موندے شي چې هغوي خپلو کښې یو شان روایات لري او هغۀ د هغه ټولګي ارکان د یو نسل نه بل نسل ته منتقبل کوي۔

د دې ټولو تعریفونو په رڼا کښې مونږ وئیلے شو چې کلچر د یو مخصوص قوم د هغه ټولو عقیدو، اخلاقیاتو، توهماتو، رسمونو، رواجونو، روایاتو، قانون، د وخت تیري ذرائعو، د روزۍ ګټلو یعني هنرونو او کسبونو جامه پیزار، خوراک او د هغه ټولو عادتونو ته وائي د کومو مطابق چې هغوي ژوند تېروي ـ

د دې تعریفونو نه مونږ په دې نتیجه هم رسو چې ثقافت د انسان د کرداري نمونو یو ترلے او پئیلے شوے نظام دے چې انسان په ټولنه کښې په اوسېدو زده کړے وي او په دې کښې مادي او غیر مادي هر رنګه نمونې وي یعني په دې کښې د ژوند د امروزه استعمال مادي او غیر مادي ټول څیزونه راځي ـ

"Culture not only reflects the real world around human and their living conditions but a nations social consciousness means thinking, lifestyle, traditions, value systems and world view."[13]

ترجمه: "کلچر نۀ صرف د انسانانو نه چاپیره د حقیقي نړۍ او د هغوي د ژوند ژواک عکاسي کوي بلکې د یو قوم معاشرتي شعور، فکر، ژوند ژواک، روایاتو، اقدارو او د نړۍ په حقله د نظریو عکاسي هم کوي .لنډه دا چې ثقافت د یو داسې عمل نوم دے چې د هغې لاندې انسان د پیداوښت نه واخله تر مرګه پورې د ژوند طریقې رااوباسي .ثقافت د ژوند تېرولو د فن او طریقه کار نوم دے .په ثقافت کښې څۀ اقدار وي چې د هغې خیال ساتلے شي .ثقافت کښې څۀ معیارات وي چې د هغې لاندې ژوند تېرولے شي .یا په نورو ټکو کښې د بیالوجیکل نیډز یعني حیاتیاتي ضرورتونو پوره کولو دپاره چې یو قوم څۀ هم طریقې او لارې خپلوي هغې ته ثقافت وئیلے شي."

د کلچر څۀ عمومي خصوصیات دا دي.

- کلچر د زده کړې شے دے او دا وراثتي څیز نه دے.
- دا د شریکې شے دے او په ټولنه کښې د ټولو خلقو یو شریک میراث دے.
- دا د یو نسل نه بل نسل ته منتقبل کېږي.
- دا د ګڼو اجزاؤ مجموعه ده.
- دا یو مسلسل ارتقائي عمل دے.
- کلچر یو جامد څیز نه دے .وخت سره سره د حالاتو مطابق په دې کښې بدلون راځي.
- کلچر د انساني د خوشحالۍ او تسکین ذریعه ده.
- د هرې ټولنې خپل خپل کلچر وي.

د کلچر څلور بنیادي قسمونه دي .

مادي، غیر مادي، تصوراتي او حقیقي۔
په مادي کلچر کښې د یوې ټولنې مادي څیزونه لکه جامه پیزار، کالي پټري، لوښي لرګي، کرکیلې اوزار او نورو پېشو اوزار ۔ د موسیقۍ آلات یعني هر هغه څیز چې هغه مادي وجود لري ټول شامل دي۔
په غیر مادي کښې ټول اقدار، توهمات، عقیدې، تصوارت، خیالات، روئې، ژبه، فولکلور او ادب هر څۀ شامل دي۔
تصوراتي: د کلچر هغۀ حصۀ چې په هغې باندې عمل او نه شي یا پرې عمل کول ګران وي او د عمل کولو نه پاتې شي هغې ته ائیډیل کلچر وئیلے شي۔
حقیقي کلچر:
د کلچر هغه حصۀ په کوم چې د یوې ټولنې وګري عمل کوي یا پرې عمل کولے شي ۔ یو کلچر ټول په ټوله حقیقي نۀ شي کېدے ۔ د هغې څۀ نه څۀ حصۀ بیا هم ائیډیل پاتے کېږي۔
د دې نه علاوه د کلچر څۀ نور قسمونه هم دي لکه (High Culture) هعمه د اوچتې طبعي کلچر او پاپولر کلچر (Popular Culture) یعني د عام اولس کلچر ۔
د غه شان د کلچر څۀ عناصر هم دي ۔ عناصر هغه بنیادي اجزاء دي کوم چې په ټولو کلچرونو کښې یو شان وي ۔دا ټول اوؤه دي ۔

- سوشل ارګنائزیشن یعني ټولنیز تنظیمونه
- رسمونه رواجونه
- عقیدې یا مذهب
- فن او ادب
- د حکومت طرز
- معاشي نظام

- ژبه

د دې عناصرو لړ وضاحت لاندې کولے شي۔
سوشل ارګنائزيشن هغه ټولګي دي چې په کومو طريقو يوه ټولنه د خپلو غړو مختلف ټولګي جوړوي لکه خاندان، دوستان، مذهبي ګروپونه د پېښې په لحاظ ټولګي يا طبقاتي ټولګي ۔په دې کښې د ټولو نه اهم خاندان دے ۔ د خاندان دوه قسمونه دي ۔ نيوکلئير فيملي (Nuclear Family) چې صرف په مور پلار او بچو مشتمل دي او چې يو څو نسلونه په کښې په يو وار ځاے اوسېږي هغې ته (Extended Family)وئيلے شي ۔
رسمونه او رواجونه:
هغه رويې ، عادتونه او کارونه چې مونږ ئې په عامه توګه کوؤ، رسمونه بللے شي او هغه رويي او عادتونه او کارونه چې په يوه ټولنه کښې پرې لکه د قانون غوندې عمل کولے شي رواجونه بللے شي ۔
مذهب:
په يو خداے يقين ساتل يعني (Monotheism) يا په ګڼو خدايانو يقين ساتل يعني (Polytheism) ۔
معاشي نظام:
په يوه تولنه کښې د روزۍ د ګټلو ذريعې څۀ دي يعني د يوې ټولنې معاشي ډهانچه په کومو ذرائعو ولاړه ده لکه کرکرونده يا صنعتونه او تجارت ۔ په دې کښې هنرونه، کسبونه، پيشې ، تجارت او سرکاري نوکرۍ، هر څه راځي۔
فن او ادب: د يوې ټولنې ټول فنون لکه انځور ګري، مجسمه سازي، ميوزک او ادب وغيره د يو کلچر په رغونۀ کښې خپل بنيادي کردار ادا کوي۔

د حکومت طرز: دا چې په یوه ټولنه کښې د حکومتي چارواکو انتخاب څنګه او په کومه طریق کېږي او څۀ قسمه طرز حکومت د دې ټولنې خلق خوښوي او قبلوي۔

ژبه: ژبه د کلچر د ټولونه ډېر مسلم او ارزښت ناک عنصر دے۔

الله تعالي په دې کائنات کښې د اوچې، لوندې او دهوا په لکونو زرګونو مخلوقات پیدا کړي دي او په دې ټولو مخلوقاتو کښې ئې انسان له اشرف المخلوقات درجه ورکړې ده ۔د دې فضیلت څۀ وجې دي ۔لکه الله تعالي دې په زمکه خپل نائب مقرر کړے دے ۔دۀ له ئې عقل ورکړے دے او دۀ ته ئې د ګویائي طاقت ورکړے دے او دا هغه خصوصیات دي چې مونږئې د ځناورو نه ممتازه کړي یو ۔ژبه انسان ته د الله تعالي د طرف نه یوه خصوصي او ډېره خصوصي تخفه ده ۔

ژبه زمونږ په سوچونو، زمونږ په خوبونو، زمونږ په سندرو، زمونږ په ساندو او زمونږ په دعاګانو هرڅۀ کښې موجوده ده ۔دا د علم خزانه ده او د علم او کلتور د منتقل کولو یوه مضبوطه آله او وسیله ده ۔د ژبې تعریف د یو څو ډکشنرو او ماهرانو په حواله لاندې کووم ۔

آکسفورډ ډکشنري د ژبې تعریف څۀ داسې کوي ۔

"The method of human communication either spoken or written, consisting of the use of words in a structured and conventional way."[14]

ترجمه: "د انساني رابطې یوه طریقه چې په وینا یا لیک پورې اړه لري او په روایتي او ساختي طریقه د لفظونو په استعمال مشتمله وي۔

میریم ویبسټر ډکشنري د ژبې تعریف څۀ دا رانګې کوي ۔

"A systematic means of communicating ides or feelings by the use of conventionalized signs, sounds, gestures or marks having understood meaning."[15]

ترجمه: "د خیالاتو او احساساتو د روایتي علامتونو، آوازونو، اشارو او پېښو په ذریعه د ترسیلولو یو داسې منظم نظام چې معني لري۔

کولنز ډکشنري د ژبې تعریف څۀ داسې کوي۔

"A language is a system of communication which consists of a set of sounds and written symbols which are used by the people of a particular country or region for talking or writing."[16]

ترجمه: "یوه ژبه د رابطې یو داسې نظام دے چې د غږونو او لیکلو شوؤ علامتونو په یو سیټ مشتمل دے چې د یو مخصوص ملک خلق ئې د وئیلو یا د لیکلو دپاره کاروي."

د لغاتو د تعریف نه پس د ژبې په حواله د یو څو پوهانو تعریفون وړاندې کووم.

د ژبپوهنې ماهر ایډورډ سیسر په خپل کتاب (An Introduction To The Study Of Speech) کښې د ژبې تعریف داسې کوي.

"A purely human and non-instinctive method of communicating ideas, emotions and desires by means of a system of voluntarily produced symbols."[17]

ترجمه: "د خیالاتو ، جذباتو او خواهشاتو د ترسیلولو یوه سوچه انساني او غیر جبلي طریقه چې په ارادي توګه د ویستلو شوؤ علامتونو یو نظام په ذریعه واقع کېږي"

پولټي هیم (Pulte ham) په خپل کتاب (The Arts Of English Poesies) کښې د ژبې تعریف څۀ داسې کوي.

"After a speech is fully fashioned to the common understanding and accepted by consent of a whole country and nation, it is called a language."[18]

ترجمه: "کله چې یوه وینا په یو ملک یا قوم کښې په شریکه په پوره توګه وئیلے او منلے شي نو هغې ته بیا ژبه وئیلے شي .

(Wardhaugh) د ژبې تعریف څۀ داسې کوي.

"Knowledge of rules and principles and of the ways of saying and doing things with sounds, words and sentences, rather than just knowledge of specific sounds words and sentences."[19]

ترجمه: "د مخصوصو غږونو، لفظونو او جملو د صرف علم په نسبت د غږونو، لفظونو او جملو د وئیلو او د دې اصولو او قانون علم ته ژبه وئیلے شي .

ډیوډ کرسټل د ژبې تعریف څۀ داسې کوي ـ

"A systematic, conventional use of sounds, signs or written symbols in a human society for communication and self- expression."[20]

ترجمه: "په یوه ټولنه کښې د ځان د اظهار او اطلاعاتو دپاره د غږونو، نخښو یا لیکلي علامتونو یو بااصوله او روایتي نظام ته ژبه وئیلے شي"

دغه شان Emmitt And Pollock د ژبې په حقله وائي!

"Language is a system of arbitrary signs which is accepted by a group and society of users."[21]

ترجمه: "ژبه د خپلې خوښې د علامتونو یو داسې نظام دے چې د ټولګي یا یوې ټولنې ویونکو قبول کړے وي"

د دې ټولو تعریفونو نه مونږ په دې نتیه رسو چې څنګه چې کلچر په ویه ټولن کښې وجود موموي دغه شان ژبه هم د ټولنې سره تړلے ده ـ یو انسان هم ځان له یو اځې ژبۀ نه شي جوړولے ـ ژب د یوې ټولنې شریک میراث دے ـ انسان ته که یو معاشرتي ځناور وئیلے شي نو هغۀ هم د دې ژبې په وجه ځکه چې ژبه او ټولنه خپلو کښې ډېر نزدې تعلق لري ـ هیڅ یوه ژبه په خلا کښې نۀ زېږېږي او نۀ د یو قوم ماهران په بنده کمره کښې کښېني او ژبه جوړوي ـ ژبه او کلچر د ټولنې نه وجود مومي ـ تولنې سره ترقي کوي او چې کله یوه ټولنه مخ په زوال شي ، نو د دوي ژبه هم زوال طرف ته ځي ـ مونږ په ساه لفظونو کښې د ژبې تعریف داسې هم کولے شو ـ

"ژبه د ګویائي یو داسې طاقت دے چې انسان د نطق د اعضاؤ نه رااوځي ـ دا د آوازونو یو داسې نظام دے چې د یوې ټولنې د غړو تر مینځه د معني او د مطلب د ترسیل کار کوي ـ د ژبې په ذریعه مونږ خپل خیالات، احساسات او جذبات بل انسان ته منتقل کوؤ ـ

په ژبه کښې د یو قوم د ثقافت د زرګونو کلونو تاریخ خوندي وي ـ څوک د نړۍ په حقله څنګه نظریه لري ـ خاندان څنګه جوړوي ـ د بچو تربیت څنګه کوي ـ خپلوګاونډیانو سره څنګه تعلق ساتي ـ ځناورو سره څنګه سلوک کوي ـ خپل چاپیریال ته څنګه توجه کوي ـ خپلو عقائدو یا مذهب باندې

څرنګه عمل کوي ـ د بيمارو کوري علاج څنګه کوي ـ څۀ څۀ هنرونه زده کوي ـ وشتې ټوقې په څۀ طريقه کوي او په کومو الفاظو کښې ئې کوي او په څۀ څۀ موقع ئې کوي ـ دا ټول هرڅۀ د يو قوم په ژبه کښې خوندي وي ـ ژبه د يو قوم پېژندګلو هم ده ـ ژبه نۀ صرف د ماضي د کلچر بلکې په حال کښې د کلچر د ساتنې او ځانګړتوب يوه آله هم ده ـ

هسې خو د کلچر د خوندي کولو نورې ذريعې هم شته لکه تعميرات، انځورګري او ميوزک وغيره خو ژبه د کلچر د خوندي کولو د ټولو نه مهمه او ارزښت ناکه ذريعه ده ـ

"It is true that there are various forms or culture preservation like architecture, painting music etc. However language is the most dynamic of them all."[22]

ترجمه: " دا خبره رښتيا ده چې دکلچر د خوندي کولو ډېر څيزونه دي لکه طرز تعمير، انځورګري او ميوزک وغيره خو ژبه د دې ټولو نه طاقتور عنصر دے۔"

که مونږ د ژبې دې وظيفې ته اوګورو نو دا په هر اړخ مهمه ده او د کلچر د خوندي کولو تقريباً هر نظام ژبه استعمالوي لکه لائبريري او نور چاپ کتابونه، رسالې، اخبارونه عن تر دې چې په دې جديد دور کښې هم په سافټ فارم کښې چې څۀ شے هم خوندي کېږي، نو هغې کښې هم ژبه پکار راځي ـ د کمپيوټر دپاره پروګرامنګ ژبې ليکلے شي او هغه وخت لرے نه دے چې د يوې ژبې د کارپس نه به د يو قوم کلتور ليکلے کېږي ـ

"Every system of storing uses language, be it drama, printed books, proverbs, symbols or music. It has been constant Endeavour of human beings to gain more knowledge about this world. Languages make this possible by providing a medium to express reason and make sense of human perceptions."[23]

ترجمه: "د خوندي کولو هر يو نظام ژبه استعمالوي که هغه ډرامه ده که چاپ شوي کتابونه دي که متلونه دي که علامتونه دي او که ميوزک د انسان هميشه راهسې دا کوشش پاتے شوے دے چې د دې نړۍ متعلق

علم حاصل کړي ـ ژبه دا هر څۀ ممکنوي، چې د انسان شعور او ادراک ته د اظهار یوه ذریعه ورېخښي ـ "

د ژبې او کلچر تعلق د نوک او د اورۍ دے ـ ژبه د کلچر د خوندي کولو، نوي نسل ته د منتقلولو یوه مستقله او مضبوطه ذریعه ده ـ کلچر د ژبې دپاره د خام مال په توګه کار کوي ـ د ژبې لغاتو فولکلور او ادب له مواد ټول د کلچر نه اخستلے کېږي ـ کلچر د ژبې یوه ضروري برخه ده ـ فریډرک خو ورله یوه نوې اصطلاح (Linguaculture) غوره کړې ده ـ

"Friedrich calls, (lingua culture) a neologies intended to capture the fundamental facts that culture is a part of language just as language is part of culture."[24]

ترجمه: " د فریډرک نوې اصطلاح لنګواکلچر دې بنیادي حقیقت ته اشاره کوي چې کلچر د ژبې هم هغسې یوه برخه ده څنګه چې ژبه د کلچر برخه ده ".

د دې حقیقت په رڼا کښې مونږ وئیلے شو چې ژبه او کلچر د وي بل دپاره لازم او ملزوم دي او د یو بل نه چرې هم نۀ شي بېلېدلے ـ

اوس ذه په هغۀ اړخونو رڼا اچوم کوم ځائے چې د ژبې او کلچر خپلو کښې ډېر نزدې تعلق دے ـ

- د ژبې لغات او کلچر
- د ژبې فولکور او کچر
- د ژبې ادب او کچر
- د ژبې سره اشاري او کلچر
- ژبه او طبعي ماحول
- طبقاتي نظام او ژبه
- انفرادیت او اجتماعیت او ژبه
- معاشي نظام او ژبه

د وړاندې ورکړې شوې هر يو سرخط لاندې لږ تفصيل وړاندې کولے شي -

۱ -د ژبې لغات او کلچر:

د يوې ژبې لغات د هغه ټولنې د خيالاتو، دلچسپو او پېښو يو پېچېده او مکمل فهرست وي -دغه شان دا لغات د يو قوم يا د يوې قبيلې د لغاتو يو مکمل قاموس وي -د مثال په توګه د انګريزۍ ژبې لغات که راواخلو لکه (Father, mother, son, daughter, grandmother, grandson) وغيره وغيره -د دې لغاتو نه دا اندازه لګي چې د انګريزانو په ټولنه کښې د رشتوجال ډېر ساده دے -مور پلار او زيات نه زيات (Grandmother and Grandfather) ولې که مونږ د پښتو ژبې لغاتونو ته اوګورو لک مور ، پلار، نيکۀ، اؤرنيکۀ، کرنيکۀ، ترنيکۀ، نوسے، کړوسے، ټيکري، کودي -دغه شان انږور، ځومبم، رونداړ، اوښے، ښينه، ماما، کاکا، مامي، چاچي، ماخي، پپو، ليور، يور، ليورځي، اندرورځي، خورئي، وريرونه، خورځې، وريرې، بنځي، بن، سانډو، نيا، داسې دا د رشتو يو ډېر پيچيده جال جوړېږي -چې په بره، ښکته، ښې او ګس ټولو اړخونو ته ډېر زيات خور وؤر دے -د دې لغاتو نه دا اندازه لګي چې پښتنه تولنه کښې د ينې رشتې ډېرې ګڼېدې -او دا ټولې رشتې يو ل سره تعلق ساتي -پت پالي او غم ښادي کوي ځکه تر اوسه پورې ژوندي دي چې په يوه ژبه کښې د يوې رشتې دپاره يو لفظ شته نو د هغې رشتې وجود هم شته

"In kinship systems language is relate to thought through the ways in which the use of terms like father or older brother reflect how people behave toward these people."[25]

ترجمه: "د رشته دارۍ په نظامونو کښې ژبه سوچ سره په هغه طريقو ترلې ده چې په کوم کښې پلار، ورور يا مشر ورور غوندې اصطلاحات دا ښائي چې يو قوم دې خلقو سره څنګه رويه لري۔"

د يوې ژبې فولکور او کلچر:
که مونږ د يوې ژبې د فولکلور څېړنه اوکړو نو مونږ ته به د هغه قوم د فولکور نه د هغوئې معاشرتي، معاشي او نفسياتي ټول اړخونه څرګند شي ۔ د پښتو فولکلور د ټولو اضافه لکه متل، ټپه، اړ، سندره او چاربيته د دې ټولو د مطالعې نه د پښتون کلچر د ګڼو اړخونو څرګندونه په ډېره ښه توګه کېږي۔
که مونږ د پښتون قوم معاشرتي نظام ته اوګورو نو دلته (Joint Family System) دے ۔ دلته مورپلار د خپلوبچو تر خپله وسه ډېره ښه پالنه کوي او نۀ صرف د خپلو بچو بلکې د خپلو نوسو کړوسو پورې د هغوئې تربيت او ښه پالنه کوي او که چرته حادثاتي توګه د چا مورپلار وفات شي نو د هغه بچو ماماګان، ترونه او نيکه د هغۀ بچو پرورش خپله ذمه واري ګڼي ۔ اګرچې لکه د پلار غوندې مضبوطې نه دي پاتې خو بيا هم تر ډېره حده دا رشتې هم هغسې قائمې دي ۔
پښتنه ټولنه داسې ټولنه ده چرته چې کشر د مشر عزت کوي چرته چې مشر د کشر دپاره په ځان سخته تېروي ۔ چرته چې د رنځور علاج کولے شي ۔ د رنځور ورور خور ټول غمونه په سر اخيستے شي ۔ د هغۀ خدمت کولے شي ۔ په هسپتال کښې ورته خدمت ته ملا تړلے شي ۔ علاج ورله قرض ورکولے شي ۔ جائيداد خرڅولے شي ۔ عن تر دې چې خپل کور هم خرڅولے شي ۔ چرته چې د خورلڼو خيال ساتلے شي ۔ د هغوي برخه باندۀ کولے شي ۔ چرته چې وادۀ کړې خور په اختر شوقدر پاللے شي ۔ چرته چې د کونډو خيال ساتلے شي ۔

د لاندې ورکړې شوې متلونو نه د پښتو ټولنې د وينې د دې رشتو د پاللو د دې رشتو د تقدس او اهميت پته ډېره ښه لګي .
اوبۀ په ډانګ وهه نۀ بېلېږي .
خبره د خدا ے دپاره ډانګ لوړ د عزيز دپاره په کور به جنګ کوؤ، په بهر به ننګ کوؤه .
رګه رګه رامي کاږه
لاس چې مات شي غاړې له ځي .
چرګ په خپلو بڼو نۀ درنېږي .
د کټه پريوځي د زمکې نه پرېوځي .
نۀ سل اوليا ء نۀ يوه خورلڼه .
بد ورور په بد ځا ے پکار .
په يوه څپيړه سل مخونه خوږېږي .
کو ے شه سپيه ستا مخ نه ستا د خاوند .
د يو مخه مې سل مخه ښې شي د يو مخي مې سل مخه بد ے شي.
د دې ټولو متلونو نه دا اندازه لګي چې په پښتنه ټولنه کښې د رشتو يو مضبوط او پئيلے شو ے جال د ے . د دې ټولنې غړي که په خپلو کښې جنګ کوي خو بهر خلقو ته يو وي . په دې ټولنه کښې که په يو غړي غم راشي نو نور خپلوان ئې د مالي او جان امداد نه غاړه نۀ رغړوي . که چا کره ښادي وي نو ټول ورسره د خوشحالۍ سندرې وائي او که چا کره غم راشي نو ټول ورته خدمت ته بېې راکاږي . د سړي د کفن دفن غم ئې خپل خپلوان او چ ګاونډ کوي . د مېلنو ئې مېلمستيا کوي . او دوي سره په دې غم کښې پوره په پوره شريک وي او خپل خپلوان څۀ چې چم ګاونډ هم ورته ولاړ وي . متل د ے چې خپل خپلوان رستو رارسي او چم ګاونډ مخکښې رارسي .
دغه شان اشر د پښتو ژبې يو لفظ نه بلکې يو پوره نظام د ے . په معاشي توګه غريبه او زمينداره ټولنه کښې دا خلق غټ غټ او درانه کارونه يو بل

سره په شریکه کوي چې اشر ورته وئیلے شي لکه ګوډ کول، لو کول یعني د غنمو رېبل ، غوبل کول، بوساړه ترل، ختې بوټې کول یعني د کوټو چهتونه په ختو لیوهل د نن د زمانې د پخوا آبادو یعني لنډرو اچولو ههم د ګاونډیانو او خپلو خپلوانو اشر راټولولے شي ۔

په دې اشر کښې نۀ صرف اشر کونکي کورنۍ اشر ګنډو له ښه چاے ډوډوۍ ورکوي بلکې اشر ګندي او نور چم ګاونډ ورله هم چاے ډوډۍ راوړي ۔ بل خوا په پښتنه معاشره کښې میره مور، تربور، بن، خوابښې، انږور، اندرور، رُندار، لېور، او یور داې رشتې دي چې څۀ نه څۀ تاؤ تریخوالے په کښې موندے شي او د دې اندازه هم د ژبې نه کېږي ۔

د مثال په توګه دا یو څو متلونه اورګورئ!

چې مور مېره شي نو پلار پلندر شي ۔

ځوم د لستوڼي مار وي۔

بن د کُچو ښه نه وي ۔

تربور خو انبور وي۔

خدایه تربور ته مې بې وروره مه کړے ، ورور ته مې بې زویه مۀ کړې او پلار ته مې بې موره مۀ کړې ۔

چې انږور ووم نو خوابښې مې ښه نۀ وه اوس چې خوابښې شوم نو انږور مې ښه نۀ ده ۔

یور یو برغولے اُور ۔

دغه شان ټپه د پښتو فلکلور یو ځانګړے صنف دے چې د نهه سیلابونو او دیارلسو سېلابونو صرف په دؤو مصرعو کښې یو پوره مضمون رانغاړي ۔او زمونږ د کلچر تقریباً د هر اړخ عکاسي په ډېره ښه توګه کوي ۔که پښتنې اقدار دي که خویونه، رسمونه رواجونه دي او که مادي کلچر دا هر څۀ ئې په خپله سینه کښې خوندي کړي دي ۔

لکه د مثال په توګه د رسمونو رواجونو په حقله دا یو څه ټپې وړاندې کووم ۔

ـہ اوربل په توره نه ورانېږي
چې وخت ئې راشي سلائي ئې ورانوينه

جينۍ په ګوټ کښې راته جه شوه ۔
اوس رانه غواړي د فلاني د لاس ګلونه

اوربل د وادۀ يو رسم دے چې د واده په شپه د هلک د کور ښځې جينۍ کره ځي او د جينۍ کمځۍ سپړي او وېښتو کښې ورله لار په سلائي اوباسي ۔دغه شان چې کله د اوربل دپاره د هلک د کور ښځې راشي نو د جينۍ ملګرې او خوېندې ورته ور پورې کړي او د اُورۀ پېسې ترې نه غواړي ۔هله ورته ور لرې کوي چې پيسې ترېنه واخلي ۔په دې ټپو کښې هم دې رسمونو ته اشاره شوې ده ۔

ـہ
ټوپل په دواړه لاسه نيسه
ښکلي فلانيه په پالنګ دې خېژوينه

چې دا فلانے په پالنګ پښه کړي
خدايه راکښې کړې تور لونګ کاږۀ سرونه

کله چې د هلک کور جنج جينۍ کور کره لاړ شي نو هک د سخر کور کښې په پالنګ خېژوي او شيرينۍ پرې نولي ۔څهري ورته اچوي او حلوه ورته اچوي او حلوه يا مټيهاۍ ورله وركولے شي ۔ په دې ټپو کښې دا رسم ستائيلے شوے دے۔

ـہ
په ما دې زر ورکړې نه دي
چې د لالټين په رڼا غواړې دېدنونه

پخوا به تهال شمېرل يو عام رسم وُ چې کله غريبي وه نو د جينۍ پلار له به د هلک پلار څۀ پېسې ورکولې چې هغه پرې خپلې لور له څۀ کټ پوزې اوکړي او د وادۀ خرچې ترسره کړي ـ دا پېسې به په تهال کښې ورلے شوې او په پوزي به شمارلے شوې ـ دا رسم اوس نه شته خو په ټپه کښې خوندي دے چې زمونږ د کلچرل تاريخ پته ترې نه لګي ـ

دغه شان په اړ يا ټک کښې هم زمونږ د معاشي او مادي کلچر ډېر اړخونه پټ پراتۀ دي لکه!

ژوندي چپ ګرځي، مړي چغې وهي او په اور سوي اوبۀ راخلي ـ
شل ئې طاقه شل ئې ناطاقه، شل ئې رجړومه، شل ئې ربابه ـ
پته پته ځي لکه د کب کارونه کئ د رب ـ

په دې ټولو اړونو کښې زمونږ د کرکېلې او ارهټ سره تړلے کلچر بيان شوے دے ـ

چاربيته هم د پښتو فولکلور يو مشهور صنف دے چې د تاريخ مادي او غير مادي کلچر ډېر اړخونه ئې په خپله لمنه کښې خوندي کړي دي ـ د شير علي ستي يوه چاربيته د ارهټ په حقله ده چې د ارهټ ټول اجزا په کښې بيان شوي دي ـ د دې ارزښت په نن دور کښې ډېر زيات ځکه دے چې د مادي ترقۍ د وجې اول د لرګي د ارهټ ځاے د اوسپني ارهټ واخيستو او اوس هغه هم په استعمال کښې نۀ دے ـ په دې يادګاري چاربيته کښې د ارهټ ټول اجزاء ډېر په ښه شان سره خوندي شوي دي ـ دغه چاربيته چې ډېره اوږده ده، د دې څۀ حصه د لوستونکو دپاره وړاندې کوومه.

"بل بت ته ژاړي ځان بو بت اوکړو ارمان
کانجڼ زمونږ د سر د پاسه پروت وي هر ساعت
مونږ ډېر يو په هيبت
غوږ کېږده اسويلي ته کانجڼ وے سلائي ته
مکنړۍ راله مينځ باندې ښخ کړے ده مېراته

کړه ملا ئې راله ماته

زۀ شومه ناقراره مکښا شوه ورته قار

په خېټه کښې مې چولي انصاف نه کوي کم بخت دے

په تشي کښې مې خښ دے

شوم سترې په دکړو ګاندې شوه په جهګړو

هر څوک مې تاوهي سر مې تړلے دے په پړي

مثال مې شوه د مړي

بل بت ته ژاړي ځان تاوېږم په ميدان

ډول چغې کړې په ما څومره تېرېږي مصيبت

مونږ ډېر يو په هيبت

خوږ شوي يمه ټوله چکلۍ وئيل چې ډوله

څوک دومره پيدا نه شو چې مې خلاصه کړي د لټه

سورۍ شومه چورلټه

په ما دي څومره زور لټ دے مۀ کوه شور

سورے شومه په زړه باندې خوړلي مې دي غشي

خوږېږي زما تشي" [26]

سندره هم د پښتو فولکلور يو زړۀ پورې صنف دے ۔ سندره ډېر مقبول او مشهور صنف دے چې اکثر د وادۀ ښادۍ په وخت وئيلے شي ۔ په سندره کښې زمونږ د کلچر معاشرتي ، معاشي، مادي او نفسياتي ټول اړخونه ډېر په ښۀ شان سره خوندي شوي دي ۔

وخت سره سره د مادي ترقۍ په وجه زمونږ په مادي کلچر کښې ډېر بدلون راغلے دے ۔ د کور لوښي لرګي، جامه پيزار او کالي پټري اوس د نوي فېشن مطابق استعمالېږي او هغه زاړۀ کالي پړي جامهه پيزار او د خلقو په استعمال کښې هم نۀ دي ، خو د افسوس خبره دا ده چې هغه زاړۀ لوښي لرګي او کالي پټري اوس نوے نسل نۀ پېژني، نه ئې ورله نومون ورځي ۔ داسې سندرې هم شته چې په کښې د مادي کلچر دغه اړخونه خوندي دي ۔

لکه په دې لاندينۍ دوؤ سندرو کښې دغه لرغونو کالو نومونه خوندي دي او دغه کالي اوس په استعمال کښې نه دي ۔

"زړۀ ئې راته وړې په رښتيا هغه بلبل دے
څۀ عجيبه رنګ ئې د ګل دے
پانزيب ئې پښو کښې کوي شرنګ
بانکے پرې لګي درنګ په درنګ
د پيکړو ورسره جنګ
درې واړه يو شو ځلورم ئې جفاول دے
څۀ عجيبه رنګ ئې د ګل دے"[27]
دغه شان دا بله سندره!
"زما د سلو روپو تلې سور پيزوان هلکه
تۀ راپسې وې زما شوے دے ګمان هلکه"[28]

د يوې ژبې په فولکلور کښې دهغه قوم تاريخ، نفسيات، نفسيات ، معاشي او معاشرتي حالات هر څۀ خوندي وي ـ د ژبې ددې وظيفې په حقله ډيجوډ کرستل وائي۔

Language is the repository of the history of a people. It is their identity, oral testimony in the form of sagas, folktales songs, rituals, proverbs and many “other practices provide us with a unique view of our world and a unique canon of literature.”[29]

ترجمه: ژبه د يو قوم د تاريخ خزانه وي ـ دا ددے قوم پيږندګلو او د د استانونو، اولسي قيصو ، سندرو، رسمونو، متلونو او نورو ډيرو کارونو يو زباني شهادت وي ـ چې مونږ ته د نړۍ په حقله يو ځانګړے تصؤر راکوي او د ادب يو حقيقي تصوير راکوي۔

د ژبې ادب او کلچر:

د ادب د پاره يو اديب ټول خيالات، احساسات، کردارونه او پلاټونه د خپل کلچر نه داخلي ـ خپل رسمونه رواجونه معاشرتي جوړښت، د رشتو تړون، د خاندان نظام، خوښي نا خوښي رويې، د رشتو تړون او مادي کلچر دا هر څه يو اديب په ادب کښې محفوظولے شي۔

هر اديب د خپل دور د کلچر معاشرتي، معاشي، نفسياتي او سياسي حالت عکاسي کوي ـ اديب د ادب د يوې فن پارې په شکل کښې اصل کښې مونږ اصل کښې مونږ ته د خپلې ټولنې يو (Cross Section) ښائي۔

د ژبې سره اشارې او کلچر:

چې کله مونږ خبرې اترې کوو نو مونږ خبرو سره سره مسلسل په لاسونو، سترګو، وروځواو شونډو څۀ اشارې هم کوو ـ دا اشارې زمونږ جذبات، احساسات ، مينه، غصه، نفرت، ذهني حالت، زمونږ موډ او زمونږ رويې څرګندوي ـ دا اشارې د خبرو اترو په موضوع او د مخاطب کس په رشته او مرتبه هم انحصار کوي ـ دا اشارې زمونږ د لفظونو او جملو په معني کښې مثبت والے، منفي والے، شدت يا کمے راولي ـ مختلف قسمه اشارې په مختلفو ثقافتونو کښې مختلفې معني لري ـ د خبرو سره سره د دې اشارو او د دې معنو مطالعه مونږ په پارلنګوسټکس (Para linguistics) کښې کولے شي ـ

ژبه او طبعي معني:

هر يو کلچر کښې يوه مخصوصه سيمه او يو مخصوص جغرفيائي ماحول کښې وده مومي، نو آب وهوا ، فلور، فانا د دغه ټولنې په ژبه کښې ذکر وي ـ

"Physical environment surrounding a particular society innately gets reflected in its language."[30]

ترجمه: "د يوې ټولنې طبعي چاپيريال د هغوي په ژبه کښې جبلي توګه عکاسي کېږي۔"

په جغرفيائي ماحول کښې چې څۀ هم موندے شي، د يوې ژبې په فولکلور او ادب کښې د هغې ذکروي ـ لکه په انګلينډ کښې د موسم ډېر غيير يقيني صورت حال وي ـ بنده يقين سره ن شي وئيلے چې څۀ وخت به څنګه موسم سي ـ د موسم دې غيريقيني صورت حال د انګريزانو په ژبه ډېر اثر کړے دے ـ دغه شان هغوي ته مغربي هواګانې د خوشحالۍ او د

ګرم والي احساس ورکوي او دا خبرې د هغوي د شعر و ادب نه ښې ځرګندېږي ـ ولې په چين کښې مشرقي هواګانې د ګرم والي او ښکلا علامت دے ـ لکه د يو چيني نظم انګريزي ترجمه بو اوګورو ـ

"Hard it was to see each other. Harder still to part. The east wind has no force. The hundred flowers wither. It's difficult far to meet and to part. The east wind too weak to revive flowers dead."[31]

ترجمه: " د يوبل ديدن ګران وۀ
او جدائي هم ډېره ګرانه ده
مشرقي طاقت کښې هېڅ طاقت نه شته
په سلګونو ګلونه مړاوي شوي دي
ديدن هم ګران دے او جدائي هم
مشرقي هوا کمزورې ده چې دوباره هر څۀ ژوندي کړي
ګلونه مړاوي دي

ولې زمونږ په ملک کښې ښۀ شديده يختي، ښه شديده ګرمي او دغه شان د سپرلي او د خزان موسمونه هم په کال کښې راځي ـ سپرلے د اُميد او د ښکلا علامت دے ـ دغه شان خزان د نااُمېدۍ او بدرنګوالي علامت دے ـ دغه شان زمونږ په دې سيمه کښې په ژمي کښې چرته سخته ګرمي نۀ راځي بو په ګرمۍ کښې د باران او د ږلۍ د چې يختي راتلے شي ـ په دې وجه خلق وائي چې په ژمي کښې د اوړي شپه نۀ راځي خو په اوړي کښې د ژمي شپه راځي ـ

دغه شان دا قسمه خبرې هم اکثر کولے شي۔

- دولس مياشتې کال دے ګنده ئې پشکال دے۔
- بادرو باد راپرېږده په رو دهقانان درته ولاړ دي زېړې خولې لکه خارو۔
- اسو او دسو چې د شوري نه پاڅو۔
- چې يو شي ساړه په ښپو شي چې ماه شي ساړه په شا شي۔

- ما پو ته وائي چې ترمائي رااورسوه نو باقي غوښې به ترې نه زۀ اودوړوم۔
- چې چيتر شي نو تر تر شي ۔
- چې کتک شي نو جوار کوتک شي۔

د داسې غوندې بياناتونه زمونږ د سيمې د موسمونو په حقله ښۀ اندازه کېدے شي ۔ په يو جغرفيائي ماحول کښې چې کوم بوټي، ونې، ځناور يا حشرات او يا کومې مرغۍ موندے شي، هغه هم د دې ټولنې په ژبه او فولکلور کښې موندے شي ۔

"It is the vocabulary of a language that most clearly reflects the physical environment of its speakers. We might to a large extent infer the character of the physical environment and the characteristics and the culture of the people making use of it."[32]

" د يوې ژبې لغات د يو قوم د طبعي چاپيريال ښۀ واضحه عکاسي کوي ۔ مونږ د يو قوم د کلچر او د ژبې نه د هغه قوم او د هغوي د طبعي چاپيريال خصوصيات قياس کولے شو ۔ د ژبې د طبعي ماحول سره د تعلق مطالعه مونږ په ايکولنګويسټکس (Eco-linguistics) کښې کولے شو ۔

طبقاتي نظام او ژبه:

هره ټولنه د اصل نسل، مال دولت، پېشې، تعليم يا جسماني ښکلا يا مذهبي عقائدو په لحاظ په څۀ طبقو کښې تقسيم وي او د يوې ټولنې د دې طبقاتي تقسيم اندازه د هغه ژبې د لغاتو محاورو او ادب نه کېږي، لکه هندو معاشره په برهمن، کهشتري، ويش او شودر کښې وئيلے شوې ده ۔ د هرې طبقې حقوق، فرائض او د يو شان جُرم سزاګانې جدا جدا دي ۔ زمونږ په ټولنه کښې طبقاتي تقسيم زيات تر د اصل نسل په لحاظ دے لکه پښتانۀ، سيد، کولال، ډم، شاخېل،جولا او زمونږ د ژبې د لغاتو او محاورنه د دې طبقاتي تقسيم اندازه ښه لګي لکه!

هر سړے به پوزه پورته کړي چې زۀ لوهار يم

جولاګانو کۀ نوې نۀ کولے زړې به ورله چا نۀ يادولے.
د جولاګانو د ماسپښين نه پس عقل نۀ وي.
پښتانۀ ارهټ بائيلي خو ډېران ګټي.
د چميار خپله څپلۍ شلېدلې وي .

انفراديت او اجتماعيت:
په کومو ټولنو کښې چې د ټولنې د غړو تر مينځه تعلق کمزورے وي هغه ټولنې د انفراديت (Individualism) يعني انفراديت والا ګڼلے شي . په دې قسمه ټولنه کښې هر هلک هره جينۍ چې بالغه شي نو دې د خپل ځان په خپله ذمه وار وي . پخپله ګټي او پخپله خټي . ولې په کومو ټولنو کښې چې خوارې (Extended Families) وي، د نيا نيکونونه واخله تر نوسو نوسانو پورې يو بل سره په يو کور کښې اوسېږي . په دې قسمه ټولنو کښې د خاندان د هر غړي خپل حقوق او خپل فرائض وي . د دوي تر مينځه تعلق ډېر قريبي او ډېر قلبي وي . د ټولنو دا قسمه نظام د هغوي د ژبو نه څرګندېږي . لکه په پښتو کښې متل دے .
يوئې ګټي او سل ئې خټي.
چې په تاسو اوورېږي په مونږ به اوڅاڅي.
د سلو همسا د يو ګېډے .
لاس چې مات شي غاړې له راځي.
زمونږ په ټولنه کښې انسانان د يو بل پکار راځي . يو بل له ډاټ پيټاټ ورکوي . د يو بل خدمت کوي. يو بل سره مالي مدد کوي. اکثره په داسې موقعو په دې الفاظو کښې داسې تسلي ورکولے شي.
په اوچه به اوچه ئې ستا به لونده ئې.
چرګ په خپلو بڼو نه درنيږي.
چې زړۀ نه وي تنګ ځاے نه تنګېږي دا ستا خپل کور دے.
خوره څکه، حساب مۀ منه، مونځ اودس کوه.
ژبه او معاشي نظام:

پښتنه معاشره کښې تر ډېره وخته کرکیله او چاروي ساتل د روزۍ ګټلو ذریعه ده ـ په دې وجه زمونږ په فولکلور کښې د کرکېلې او چارؤ سره تړلې ډېر متلونه ټپې او سندرې شته لکه!

که خرو یوي کولے نو غویان به چا څۀ له ساتل ـ زمونږ خو چې کته باندې کټوې باندې چې کته کوزه کټوې کوزه ـ

برغې سرباندې راښکل
خدایه یا یو غم څلور کړې
ماته جان د سور قمیص وئیلي دینه

نېستې پېغور نۀ دے جانانه
زۀ د چرbانګ میچنه ستا دپاره کړمه

د لیونۍ د پلار غوبل دے
ناکام زما دے چرم باز به ګرځومه

ما نه دې سټه غنم واخلي
په لېونۍ دې وړې نه راټولوینه

دغه شان د معاشي ضرورت په خاطر ډېر پښتانۀ به پخوا دکن ته تلل او اوس عرب ملکونو ته ځي ځکه دا قسمه مسافرۍ زمونږ په فولکور کښې سائیلے شي ـ

زما دې تن په پټن مات کړو
ستا دې رانه شي د دکنه مهرانونه

د کریلو مندرودپاره

شیرین جانان مې هندوستان ته اولېږونه

په هندوستان خوشحاله ګرځه
ترله دې خپله په نامه دې ناسته یمه

جانانه بیا دوبۍ ته مه ځه
بچي دې هره شپه بابا بابا کوینه

ولې د انګلیند تاریخ په نورو قومونو د حملو کولو نه ډک دے. په دې وجه د هغوي په ژبه کښې دا قسمه متلونه موندلے شي.

The sun never setting Empire

دغه شان هغوي په تقریباً ډېرو ملکونو حملې د سمندر د لارې کړي دي. په دې وجه د هغوي په ژبه کښې دا قسمه متلونه موندے شي.

Be all at sea
Know the ropes
Between the devil and the deep sea
Get one’s sea legs

کلچر څنګه په ژبه اثر پرېباسي:

ژبه او کلچر دواړه یو بل سره تړلي دي. د ژبې د لغاتو فولکور او ادب نه د کلچر تقریباً د هر اړخ څرګندونه کېږي. د یو قوم د ژبې نه هم مونږ ته د هغه قوم په حقله ګڼ اړخیز معلومات حاصولے شو.

د یو قوم ناسته پاسته، راشه درشه د خوراک څښاک عادتونه، بنیادمو او ځناور سره رویې، نفیسات معاشرتي او معاشي حالات عن تر دې چې د هغوي د ژوند ټول کړهٔ وړهٔ د هغه قوم په ژبه کښې موندے شي.

“The culture of a people finds reflection in the language they employ because they value certain things and do them in a certain way they come to use their language in way that reflect what they value and what they do.”[33]

ترجمه: " د یو قوم د کلچر عکاسي د هغوي د ژبې نه کېږي. هغوي داسې ځکه کوي چې هغوي څۀ څیزونو له اهمیت ورکوي او په خاص طریقو دا څیزونه کوي. هغوي خپله ژبه داسې طریقه استعمالوي چې د هغې نه دا عکاسي کېږي چې هغوي څۀ له اهمیت ورکوي او څۀ له نۀ ورکوي"

په دې وجه د یوې ژبې زده کړې دپاره د هغه قوم په کلچر پوهېدل ضروري دي. ځکه چې د یو لفظ دوه معنې وي. یوه لغوي او بله ثقافتي. لغوي معنې په ډکشنري کښې موندے شي ولې ثقافتي معنې په ډکشنرۍ کښې نۀ وي. دا په یو قوم کښې په اوسېدو لکه په پښتو کښې جلب هغه پړي ته وائي په کوم چې یو څاروے په خصوصي توګه غوا، مېښه، خره وغیره د موګي سره تړلے شي. ولې جلب کول یو بېله معنې لري.

کله چې یو نارینه میمله رخصتولے شي او نارینه کوربه ورسره د کور نه بهر راووځي او څۀ لږه لار اووهي، خبرې ورسره کوي او بیا ورته په مخه ښه اووائي، دې عمل ته مېلمه سره جلب کول وائي.

که چرې یو غیر پښتون بنده د جلب په مطلب ځان پوه کړي. نو د جلب کولو نه به هغه هم دغه پړے مراد اخلي چې ډېر کړکیچ (Confusion) به پیدا کوي.

"Dictionaries can tell us the literal translations of words but they can't tell us what those words mean within their cultural surroundings. For all words have at least two meanings, their denotative meaning which is the word itself as well as their connotative meaning or cultural meaning."[34]

ترجمه: " لغتونه مونږ ته د لفظونو لغوي معنې ښودلے شي خو دا نۀ شي وئیلے چې په کلتوري چاپیریال کښې د دې لفظونو معنې څۀ دي. ځکه چې د ټولو لفظونو دوه معنې ویې. یوه لغوي او بله ثقافتي وي. "

دغه شان کلچر یو جامد څیز نۀ دے. بلکې یو مسلسل بدلېدونکے څیز دے. د دې په څۀ عناصرو کښې بدلون ډېر زر راځي. ولې په څۀ کښې په دمه دمه. لکه په مادي کلچر کښې بدلون ډېر زر واقع کېږي. ځکه چې په مادي او سائنسي توګه دنیا په مخه مخ په ترقۍ روانه ده. نوي نوي

ایجادات کېږي ـ نوي نوي اصطلاحات مخې ته راځي ـ په دې وجه نوي نوي لفظونه یوې ژبې ته راننوځي او نن سبا یوه ژبه هم د دې عمل نه خلاصه نۀ ده او بیا یو د ژبې دغه ټکي داسې خپل کړې چې ګرائمر پرې په داسې طریقه اوخېژي چې بیا پر دې نه بلکې خپل ښکاري ـ د رابطې د تیز ترینو ذریعو په وجه نۀ صرف پښتو ژبه انټرنیټ، موبائل، وټس اپ او فېس بک کښې رومن سکرپټ (Roman Script) کښې لیکلے کېدے شي بلکې زمونږ د ژوند سټائل ئې هم بدل کړے دے ـ لکه پخوا به چې غم اوشو نو د یو کلي ته به سړے پیدل یا په ټانګه کښې روان شو او دغم خبر به ئې هغه کلي ته یوړو ـ بیا څۀ موده پس په کښې د چټ لیکلو رواج هم راغے ـ په دې وجه دا قسمه متلونه زمونږ په ژبه کښې وو چې!

سړے په سړي پړ دے
او مې پړ که بیا مې مړ که

ولې اوس دا قسمه متلونه زمونږ د ژبې نه ورکېږي ځکه چې د انټرنیټ د لارې خبر اوس په سېکنډونو کښې ورکولے شي ـ

دغه شان پخوا به خلقو خپلو مسافرو خپلوانو ته خط لیکلو بیا به ډېره موده د خط د واپسۍ په انتظار وو او چې خط به راغے بیا به لوستے شو بیا به جواب لیکلے کېدے شو ولې اوس دوه کسان یو بل سره شپه ورځ په رابطه وي ـ که د یو بل نه په جدا ملکونو کښې وي نو هم ـ دې ټول بدلون زمونږ په ژبه ښه جوښت اثر پرېباسلے دے ـ ژبه او کلچر د یوبل نه نۀ بېلېدونکي څیزونه دي ـ

سالزمین (Salzmann) وائي چې!

"It is a key to the cultural past and a guide to the cultural reality."[35]

ترجمه: "ژبه د کلتوري تاریخ کنجي ده او د معاشرتي حقیقتونو طرف ته رهنمائي کوي ـ"

ژبه که یو طرف ته د کلچر د خوندي کولو یوه آله ده نو بل خوا ژبه هم د کلچر نه بغیر ژوندۍ نه شي پاتې کېدے. ګویا دواړه په یو بل د مرګ او ژوند انحصار کوي.

"Language does not exist apart from culture that is from the socially in herited assemblage of practices and beliefs that determines the texture of our lives."[36]

ترجمه: "ژبه د کلچر نه بغیر نۀ شاي پاتې کېدے. د معاشرتي وراثت هغه مجموعه چې په عقیدو او علمونو مشتمله وي چې زمونږ د ټول ژوند رغونه سازوي."

د ژبې او کلچر تعلق د نوک او د اورۍ دے. یو انسان هم ځان له ژبه نۀ شي جوړولے. ژبه په یوه ټولنه زیږیږي، وده مومي او چې کله یوه ټولنه زوال پذیر شي نو د هغوي په ژبه هم زوال راځي. ژبه او کلچر د یو بل نه بیلول ګران وي. ژبه او کلچر دواړه د ټولنې نه وجود مومي . د ژبې نه بغیر د یوې ټولنې تصور هم ګران دے چې دا د انساني ترقۍ بنیاد دے او هر یوه ژبه د هغه قوم د نړۍ په حقله د تجرباتو، معلوماتو، نظریو او علم پوهه غټه خزانه لري. ډکشنري او د ګرائمر کتابونه مونږ ته د یوې ژبې د علم وسعت حدونه نه شي ښودلے. دا صرف او صرف په هغه ژبه کښې موندے شي. د نړۍ د مخ ته د یوې ژبې ورکېدل د علم د یوې غټې برخې روکېدل دي او یقیناً چې دا د ټولې نړۍ یو غټ تاوان دے.

**References**

[1]Dr. Bushra Khatoon, Da Swabai da Saqafat Hindara, (Mehkma Saqafat Khyber Pukhtiin Khwa, 2016) P 59

[2] Ibid 60

[3] http: en.oxforddictionaries.com/definition/culture (accessed on July 9, 2018.

[4]http://www.meriam.webster.com/dictionary/culture (accessed July9,2018.

[5] http:/dictionary.cambridge.org/dictionary/English/culture (accessed July 9, 2018.

[6]www.collinsdictionaries.com/dictionary/englihs/culture (accessed July9, 2018.

[7] The American Heritage science Dictionary, 2003, S.V culture.

[8] David, Elemes. The Relationships between language and culture. (available at) www.lib.nift.k.a.c.jp/nii/46-11.pdf. (accessed on July14,2018.

[9] Oktay Yagiz and Siros Izadpanah, language, culture, idioms and their Relationship with the foreign language in journal of language teaching and research: voliu, No 5, September 2013. P. 953-957

[10] K.N. Dash, Invitation to social and cultural Anthropology (New Delhi: Atlantic publisher and Distributers, 2004) p.21.

[11] Dr Tenguku Sepora, Tengku Mahadi and Sepideh Moghaddas Jafari, Language and Culture in International Journal of Humanities and Social Science, vol-2 No-17, September 2012, p. 231 (available at) https://www.iJhssnet.com/Journals/vol-2-No-17-September2012/24.pdf/(accessed July 14, 2018).

[12] Ibid.

[13] Oktay Yagiz and Siros Izadpanah, language, culture, idioms and their Relationship with the foreign language in journal of language teaching and research: vol,4, No 5 September 2013. P. 953-957

[14]http://www.en.oxforddictionaria.com/definition/language.(accessed July 14, 2018).

[15]http://www.merriam-webster.com/dictionary/language.(accessed July 14, 2018).

[16]http://www.collins.dictionary.com/dictionary/english/language.(accessed July 14, 2018).

[17] Importance of Language (available at) shodhganga.inglibnet.ac.in/bit stream/10603/29223/ 17/9-chapters%20%pdf (accessed July 14, 2018).

[18] Ibid

[19] David, Elemes. The Relationships between language and culture. (available at) www.lib.nifs.k.ac.jp/nii/46-11.pdf. (Accessed on July14,2018.

[20] Dr Tenguku Sepora, Tengku Mahadi and Sepideh Moghaddas Jafari, Language and Culture in International Journal of Humanities and Social Science, vol-2 No-17, September 2012, p. 231 (available at) https://www.iJhssnet.com/Journals/vol-2-No-17-September2012/24.pdf/(accessed July 14, 2018).

[21] Ibid

[22] Importance of Language (available at) shodhganga.inglibnet.ac.in/bit stream/10603/29223/ 17/9-chapters%20%pdf. Pg.21 (accessed July 14, 2018).

[23] Ibid P.22

[24] Christine Jourdan and Kevin Tuite, Language, culture and society kep Topics in Linguistic Anthropology, (Cambridge: Cambridge University Press, 2006) p.9.

[25] David, Elemes. The Relationships between language and culture. (available at) www.lib.nifs.k.ac.jp/nii/46-11.pdf. (Accessed on July14, 2018.

[26]Dr. Bushra Khatoon, Da Swabai da Saqafat Hindara, (Mehkma Saqafat Khyber Pukhtiin Khwa, 2016) P 308 - 309

[27]Ibid 582

[28]Interview with Zarmina, Shawa Tehsil Razar District Swabi , 20 July 2018

[29] Importance of Language (available at) shodhganga.inglibnet.ac.in/bit stream/10603/29223/ 17/9-chapters%20%pdf. P.16 (accessed July 14, 2018).

[30] Ibid

[31] Xiao Geng, Cultural Differences Influence on Language, in review of European studies vol-2 No-2, December 2010, p. 219. (Available at) www.ccs.net.edu/home/matthias/7400-f10.Does20 Language%20 influence%20 culture: pdf. (accessed July 14, 2018).

[32] Alwin Fill and Peter Muhlhausler (Eds) The Ecolinguistics Readers language Ecology and Environment (London and New York: Continuum, 2001) p.2.

[33] David, Elemes. The Relationships between language and culture. (available at) www.lib.nifs.k.ac.jp/nii/46-11.pdf. (Accessed on July14, 2018.

[34] Folker Hanusch, The impact of Cultural dimensions on Language use in Quality Newspapers, p.51 (available at)hanusch. Impact. Cultural-dimention.www.ec.abi.pt/ec/03/pdf/hanusch.impact-cultural-dimention.pdf (accessed July 14,2018).

[35] David, Elemes. The Relationships between language and culture. (available at) www.lib.nifs.k.ac.jp/nii/46-11.pdf. (Accessed on July14, 2018).

[36]Ibid